# په حقيقت کې دا دوه لمونځونه د منافقانو لپاره تر ټولو درانده لمونځونه دي او که تاسو په دې پوهيدلي چې په دې دواړو (لمونځونو) کې څه دي، نو تاسو به ورته راغلي وئ، که څه هم په خاپوړو وای

له أُبيّ بن كعب رضي الله عنه څخه روايت دی وايي چې: يوه ورځ رسول الله صلى الله عليه وسلم مونږ ته د سهار لمونځ راکړ نو ويې ويل: «آيا فلانی حاضر دی؟» هغوی وويل: نه، ويې ويل: «آيا فلانی حاضر دی؟»: هغوی وويل: نه، ويې ويل: «په حقيقت کې دا دوه لمونځونه د منافقانو لپاره تر ټولو درانده لمونځونه دي او که تاسو په دې پوهيدلي چې په دې دواړو (لمونځونو) کې څه دي، نو تاسو به ورته راغلي وئ، که څه هم په خاپوړو وای ، او يقينا چې لومړی صف يې د ملايکو د صف په څېر دی، او که چېرته يې په فضيلت پوه شوي وئ نو ځانونه به مو وختي ور رسولي وو، او يقينا چې د يو سړي لمونځ د بل سړي سره له يوازې لمانځه څخه ډېر پاکيزه دی، او د دوو سړيو سره يې لمونځ د يو سړي سره له لمانځه څخه ډېر پاکيزه دی او هر څومره چې ډېرېږي نو همغومره الله تعالى ته محبوب وي.

[صحيح دی] [ابو داود، النسائي او احمد روايت کړی دی]

يوه ورځ رسول الله صلى الله عليه وسلم د سهار لمونځ وکړ، بيا يې پوښتنه وکړه چې: آيا فلانی زمونږ دې لمانځه ته حاضر شوی دی؟ صحابه و وويل: نه. بيا يې وويل: آيا فلانی حاضر دی؟ يو بل کس يې وښود، هغوی وويل: نه. رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: يقينا چې د سهار او ماخوستن لمونځونه په ټولو لمونځونو کې پر منافقانو زيات درانده لمونځونه دي؛ چې په دواړو کې پرې تمبلي غالبه وي، او څکه چې کمه ريا پکې کيږي، څکه چې په تياره کې نه ليدل کيږي. او ای مؤمنانو! که چېرته پوهېدلئ چې د سهار او ماخوستن په لمونځونو کې څومره زيات اجر او ثواب دی- څکه چې زيات اجر د سختۍ په اندازه وي - نو تاسو به ورته راغلي وئ که څه هم په سينه راښښېدلئ او يا په خاپوړو راتلئ. او يقينا چې امام ته د نږيوالي له امله لومړی صف داسې دی لکه د ملائکو صف چې الله تعالى ته نږدې وي، او که مؤمنان د لومړي صف په فضيلت پوهېدلی نو يو له بل سره به يې پکې سيالي کړې وه. د يو سړي لمونځ له بل سړي سره (په جماعت) د هغه د لمانځه څخه ډېر اجر او تاثير لري چې يوازې يې وکړي، او له دوو سړيو سره يې (په جماعت) لمونځ له يو سړي سره د لمانځه کولو څخه غوره دی، او په کوم لمانځه کې چې لمونځ کوونکي زيات وي، نو هغه لمونځ الله تعالى ته محبوب او غوره وي.



النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee